
محمد ایاز نوری
۲۲/۰۹/۲۰۰۹


## والاحضرت پاچا زوی حمیدالله خان سراج وفات شو

انا لله و انا الیه راجعون




په خواشینۍ سره مو د اعلیحضرت غازي امان الله خان د زوی، عالي جناب والاحضرت ډاکتر احسان الله خان (د افغانستان) له خوا خبر تر لاسه کړ، چې نن د ۲۰۰۹ م کال د سپتمبر د میاشتې په ۲۲ د سهار په دریو بجو، محترم والاحضرت حمید الله خان عنایت سراج د هغې ناروغۍ له کبله چې وریپېښه شوې وه، د ایټالیا هیواد پلازمیني روم ښار په یوه روغتون کې د دو نیوو ( ۹۲) کالو په عمر خان حق ته وسپاره.
پاچا زوی حمید الله خان عنایت سراج د مرحوم اعلیحضرت عنایت الله خان زوی او د اعلیحضرت غازی امان الله خان وراره او زوم کیده، چې په کال ۱۹۱۷ م کې د ننګرهار د سراج العماره د کوکب په بڼ کې وزیږید. په ظاهر شاهي او د داوود خان په رژیمونو کې یې مختلفي دولتي دندې اجراء کړې دي. د هغه خدای بخښلي یو ورور والاحضرت پاچا زوی خیر الله خان وایي: حمید سراج لومړنۍ زده کړې په اماني دور کې د کابل په اماني لیسه کې سر ته ورسولې او د اماني دولت د سقوط څخه پس د خپلې کورنی سره د ایران هیواد ته مهاجر شو. خپلو لوړو زده کړو ته یې په پلازمیني تهران کې دوام ورکړ او د برښنا په مسلک یې د انجنیرۍ ډیپلوم تر لاسه کړ. په کال ۱۹۴۷ م کې بیرته خپل هیواد افغانستان ته راستون شو. په کال ۱۹۶۳ م کې د امریکې په متحده اضلاعو د افغانستان د کلتوري آتشي په حیث او بیا په کال ۱۹۶۶م کې په ماسکو کې د افغان سفارت د کلتوري آتشي په توګه وګمارل شو. چې وریسي په کال ۱۹۶۷ کې د معارف د وزارت مقام ته ورسید. د داوود خان د جمهوري دولت په لومړیو کې په انګلستان کې افغان سفیر او په کال ۱۹۷۷م کې تبدیلا په هندوستان کې یې د افغانستان د سفیر په توګه وظیفه اجراء کړې ده. مرحوم حمید سراج په کال ۱۹۵۷ م کې د اعلیحضرت غازي امان الله خان د لور

والاحضرت پاچا لور عابده جاني سره واده وکړ. د خلقي – پرچمي د کودتا څخه پس هیواد ته راستون نه شو او د ایټالیا هیواد ته ولاړ، او باقي ژوند یي په روم کي د اعلیحضرت غازی امان الله خان د کورنی د غړو سره تیر کړ، چي نن ( د کوچني اختر دریمه) له دې فاني نړۍ څخه ولاړ. جنازه د مرحوم به د پلان سره سم په روم کي خاوره ته سپارل کیږي.
روح دې ښاد او بهشت دې ځاي وي.

# والاحضرت شهزاده حمیدالله خان عنایت سراج وفات یافت

## انا لله و انا الیه راجعون

با تاسف عمیق از جانب جناب عالی والاحضرت شهزاده داکتر احسان الله خان (د افغانستان) پسر اعلیحضرت امان الله خان غازي مطلع شدیم، که محترم والاحضرت شهزاده حمید الله خان عنایت سراج پسر اعلیحضرت مرحوم عنایت الله خان به اثر مریضی که عاید حال ایشان گردیده بود، امروز ۲۲ سپتمبر ۲۰۰۹ م به ساعت سه صبح به عمر نود و دو سالگی در یکی از شفاخانه های روم پایتخت کشور ایتالیا جان به حق سپرد.
شهزاده حمید الله خان عنایت سراج در سال ۱۹۱۷ م در ولایت ننگرهار در محله سراج عماره در باغ کوکب دیده به دنیا کشود، و در زمان پادشاهی محمد ظاهر شاه وظایف مختلف دولتی را اجراء نمود. یک برادر مرحوم حمیدالله سراج والاحضرت شهزاده خیر الله خان میگوید: برادرم حمید جان سراج تحصیلات ابتدایی خویش را در لیسه امانی کابل تمام نمود و بعد از سقوط دولت امانی همراه با فامیل خود به کشور ایران مهاجر شد. در پایتخت ایران، تهران ، تحصیلات عالی را دوام داده و در رشته برق دیپلوم خویش را اخذ نمود. در سال ۱۹۴۷ م به وطن واپس عودت نموده و در وزارت معارف به ماموریت خویش آغاز نمود. در سال ۱۹۶۳ م در اضلاع متحدۀ امریکا در سفارت افغانستان به حیث آتشه کلتوری اجرا وظیفه کرد و در سال ۱۹۶۷ در سفارت افغانستان در ماسکو آتشه کلتوری بود. که بعدا به حیث وزیر معارف اشغال مقام کرد. در آغاز جمهوری داوود خان ۱۹۷۴ م تا ۱۹۷۷ به حیث سفیر افغان در بریتانیه و در سال ۱۹۷۷ الي سقوط دولت داوود خان به حیث سفیر افغانستان در هندوستان ایفای وظیفه نمود..
بعد از وقوع کودتای خلقی – پرچمی در سال ۱۹۷۸ م از کشور هندوستان رهسپار مملکت ایتالیا شد و در شهر روم با فرزندان امان الله خان غازی باقی مانده زندگی خویش را سپری کرد.
جنازۀ این شهزاده طبق پلان ایشان در شهر روم به خاک سپرده میشود.
روح آن شهزاده شاد و جنت جای ایشان باد!